**د افغــــانستان اســــلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۰ / ذو القعدة الحرام/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۱۹ / جوزا /۱۴۰۲هـ، ش**

# دحج په اداء کولو کې دتيروتنو په ګوته کول او له هغو څخه د مخنيوی لارې.

الحمدلله الملك الديان، خالق الأكوان ومقلب الأزمان، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له ولا ند ولا صاحبة ولا ولدان، وأشهد أن نبينا وحبيبنا وسيدنا محمد عبد الله ورسوله للثقلين الإنس والجان، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه ومن تبعهم إلى يوم القيامة بإحسان.أمابعد:

قال الله تعالى: {فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الحَجِّ }البقره: (۱۹۷)

وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:(خُذُوا عَني مَناسِكَكُمْ ، لا أدري لَعَلّي لا أَحُجُّ بعد حَجَّتي هذه). أخرجه مسلم.

## دحج په مناسکو کې د تيروتنو او اشتباهاتو دمخنيوي لارې:

ددې لپاره چې حج په سمه توګه اداء شي او په حج کې دهغو کارونو مخنيوی وشي چې حج باطلوي او يايې اجر کموي لازمه ده چې په لاندې لارښوونو پوره عمل وشي؛ ترڅو دحج په دوران کې دتيروتنو او اشتباهاتو مخنيوی په سمه توګه وشي.

۱- په چاباندې چې کوم کار فرض شي د هغه کار علم همورباندې فرض ګرځي.بناءً هرڅوک چې د حج د فريضې نوبت يې را نږدې شوی وي؛ په کارده چې د حج مربوط مسائل زده کړي، دحج د احکامو او مسائلو څخه ځان خبر کړي او دمطالعې لپاره داسې کتاب له بازاره راونيسي چې دحج اړوند احکام او مسائل په کې ذکر شوي وي او که چيرې په کومه موضوع باندې پوهه نه شي، دهغې په اړه دې ددينې عالم څخه پوښتنه وکړي.

۲-کله چې حاجي دحج په سفر روانيږي په کارده چې د حج لارښود له ځان سره ولري او کله چې د حج په موسم کې کوم عمل ترسره کيږي دهغې په اړه دې دحج لارښود مطالعه کړي.

۳-که چيرې څوک سواد ونه لري او نشي کولای چې کتاب مطالعه کړي، دمسجد امام او يا کوم بل داسې شخص سره دې کيني چې دحج دمسائلو په اړه پوره معلومات لري او ورڅخه دې د حج مناسک او افعال زده کړي او دمناسکو په اړه دې خپل معلومات کره کړي.

۴- هر حاجي بايد په افغانستان او سعودي عربستان کې دحاجيانو په درسي حلقه کې پوره برخه واخلي .کله چې دحج ورځې رانږدې شوی او دحاجيانو لپاره دارشاد، حج او اوقافو وزارت له خوا معلم او لارښود تعيين شو، لازمه ده چې حاجي دحج په درسي حلقه کې پوره برخه واخلي او هغه معلومات چې دوی ته دحج په باره کې ورکول کيږي بايد زده

يي کړي، که چیرې په کومه خبره پوهه نشي باید له معلم او ناظم څخه دهغې په اړه پوښتنه وکړي. همدا راز کله چې سعودي عربستان ته حاجیان لاړشي حجاج باید په هغو درسي حلقو کې ضرور برخه واخلي چې د حجاجو لپاره دائریږي.

۵-کله چې دحج په سفر روان شي باید ټول حاجیان دمعلم لارښوونو ته غوږ ونیسي او دهغه په خبرو دې عمل وکړي.

٦-که چیرې دحج په دوران کې کومه داسې خبره رامنځ ته شي چې حاجي ته یي په اړه معلومات نه وي باید سمدستي دې د معلم او یا د خپل ملګري څخه د هغې په اړه پوښتنه وکړي.

۷-دمعلم له خوا حجاجو ته جائز او ناجائز عملونه تشریح کول د تیروتنو مخنیوی کوي.

همدا راز حجاج باید په خپل منځو کې یو بل اشتباهاتو ته متوجه کړي.

په حج کې تیروتنې او اشتباهات هغه کارونه دي چې حاجي یې د واجبو ، یا سنتو او یا هم د مستحبو په نیت سره کوي حال داچې هغه کړنې به نه واجب وي ، نه به سنت وي او نه به مستحب وي، بلکې هغه به یا حرام وي یا به مکروه وي.

همدارنګه ځینې وخت حجاج له ځینو کارونو څخه ځان ساتي او فکر کوي چې دا به جواز نلري، حال داچې هغه به جائز وي.

ځینې وخت د حاجي د سستۍ او بې باکۍ له امله تیروتنې او اشتباهات رامنځ ته کیږي، چې ددې ټولو اشتباهاتو او تیروتنو لامل د حج د حکمونو څخه بې علمي ده. په کارده چې دا تیروتنې او اشتباهات وپیژندل شي او توجه ورته وشي.

## د احرام د تړلو پر وخت تیروتنې او اشتباهات:

۱- هغه څوک چې د حج لپاره هوایې سفر کوي ، باید چې احتیاطا میقات ته د رسیدو څخه مخکې احرام وتړي؛ ترڅو له میقات څخه پرته له احرام نه تیر نشي.د نورو ملکونو ځینې حجاج او معتمرین کله چې جدې ته ورسیږي بیا احرام تړي، د داسې کسانو لپاره په کارده چې واپس د میقات ځای ته او یا هغه ځای ته لاړ شي چې د میقات په محاذات کې واقع دی او بیا دې د میقات څخه او یا د میاقت له محاذات څخه احرام وتړي؛ ځکه د جدې څخه احرام نه تړل کیږي او دجدې ښار د میقات په داخل کې دی.

۲-که چیرې د احرام لباس ته نجاست ورسیږي، باید نجاست یې وویندځل شي، ځینې حجاج په دې اړه بې پرواهي کوي او داحرام لباس نه وینځي. دوی داسې فکر کوي چې یوځل د احرام لباس په غاړه شو بیا یې ویستل په کار نه دي . حال داچې که چیرې داحرام لباس ته نجاست ورسیږي باید هغه نجاست ووینځل شي، که چیرې د احرام لباس خیرن شي کولای شي هغه ووینځي او یایې بدل کړي.ځینې عوام حجاج د احرام په حالت کې ځان نه وینځي، حال داچې حاجي کولای شي چې د احرام په حالت کې ځان ووینځي.

۳- ځینې زنانه په دې عقیده وي چې احرام باید په تور لباس کې وتړل شي چې دا فکر درست نه دی. د زنانه وو د احرام لپاره کوم ځانګړی لباس نشته، خو باید کوښښ دې وکړي چې د زینت لباس نه وي او کوښښ دې وکړي چې داسې لباس په تن کړي چې ټول بدن یې پټ کړي او فتنه نه زیږوي.ځینې زنانه داسې نازک یا چسپ لباس اغوندي چې د بدن ټول غړي یي ښکاري، په حج کې دداسې لباسو نو داغوستلو څخه باید ډډه وشي.

۴- هغه زنانه چې حیض ورباندې راشي، د میقات څخه د تیریدو پر وخت باید احرام وتړي.ځینې زنانه چې د احرام د تړلو پرو خت حیض ور باندې راشي د  میقات څخه د تیریدو پر وخت احرام نه تړي او فکر کوي چې د حیض په حالت کې احرام تړل ګناه ده. حال دا چې کومه زنانه چې حیض ورباندې راشي د حج ټول افعال به ترسره کوي پرته له طواف څخه .کله چې له حیض څخه پاکه شوه بیا دې طواف وکړي.

په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- لاَ نَذْكُرُ إِلاَّ الْحَجَّ فَلَمَّا جِئْنَا سَرِفَ طَمِثْتُ فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ  صلی الله علیه وسلم- وَأَنَا أَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكِ قُلْتُ لَوَدِدْتُ وَاللهِ أَنِّي لَمْ أَحُجَّ الْعَامَ قَالَ لَعَلَّكِ نُفِسْتِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ ذَلِكِ شَيْءٌ كَتَبَهُ اللهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ فَافْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي) صحیح البخاري

ترجمه:- د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې مونږ ووتلو د نبي علیه السلام سره رمونږ بل قصد نه وو مګر حج ؤ، کله چې د سرف مقام ته ورسیدو زه حائضه شوم ، نبي علیه السلام را ننوتلو او ما ژړل . ماته یي وویل : څه دې ژړوي؟ ما ورته وویل:  زه خوښه ګڼم قسم په الله چې سږکال مې حج نه وی کړی ښه به وه . نبي علیه السلام ورته وفرمایل: لکه چې ته حائضه شوی یي؟ ما ورته وویل : بلی! نبي علیه السلام وفرمایل: دا (حیض) داسې شی دی چې الله تعالی مقرر کړی دی د آدم علیه السلام په لوڼو باندې. ته هم همغسې کار کوه لکه چې یو حاجي یې کوي، پرته له دې چې ته طواف د بیت الله وکړی ترڅو پورې چې له حیض څخه پاکه شی.

۵- ځینې خلک چې کله د احرام لباس په تن کړي، د(اضطباع) حالت غوره کړي او فکر کوي چې دا داحرام حکم دی، حال داچې (اضطباع) یواځې د قدوم طواف په لومړیو دری ګردشونو کې وي.

٦- دحج لپاره له ځان سره سفریه اخیستل په کاردي.ځینې داسې حاجي صاحبان پیداکیږي چې حج ته ځي، خو له ځان سره پیسې نه اخلي او وایي په الله تعالی مې توکل دی. همدا راز د افغانستان دشهداؤ او معلولینو ورثه چې کله حج ته ځي له ځان سره هیڅ پیسې نه اخلي او وایي هلته راته دحج وزارت پیسې راکوي.

دا دالله تعالی د حکم څخه ښکاره سرغړونه ده. الله تعالی فرمایي:{وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَالزَّادِ التَّقْوَى} البقرة: ۱۹۷ ترجمه: له ځان سره توښه واخلئ، بیشکه غوره توښه تقوی ده.

۷- داحرام څخه وروسته دوه رکعته سنت لمونځ باید په مکروه وخت کې ونه شي. د احرام تړلو څخه وروسته په غیر مکروه وخت کې دوه رکعته لمونځ سنت دی؛ ځینې خلک چې احرام وتړي په مکروه وخت کې هم دا مسنون لمونځ کوي چې دا یوه تیروتنه ده. [مستفاد من البحر]

۸- داحرام په حالت کې عورت پټولو ته زیاته توجه په کارده. کله چې انسان عادي جامې وباسي او داحرام دوه ټوټې په تن کړي باید چې داحرام په حالت کې دخپل عورت پټولو زیات خیال وساتي.ځینې خلک چې کله عادي جامې وباسي او احرام واچوي، بیا خپل عورت پټولو ته دومره توجه نه کوي چې دا کار شرعا ناروا دی او عورت پټول فرض دي.

۹-کله چې احرام وتړل شي پکارده چې محرم تلبیه زیاته ووایي.سنت طریقه داده چې حاجي به د احرام څخه وروسته تلبیه په کثرت سره وایي، ځینې حاجیان هیڅ تلبیه نه وایې یا  ویده وي او یا نورو سره په بې ځایه خبرو مصروف وي

او یا هم چوپه خوله ناست وي، چې دا د سنتو مخالف عمل دی. بالعکس ځینې حاجي صاحبان په دومره تیزه او دوامداره توګه تلبیه وایي چې آواز یې کیني او زیات ستړی شي، چې داسې کار هم نه دی په کار؛ بلکه په هرڅه کې اعتدال او میانه روي ښه ده.

امام زیلعي رح فرمایي: (ولا یجهد نفسه زیادة علی طاقته کي لا یتضرر بذلك ولا یترکه لأنه سنة فإن ترکه یکون مسیئا ) [التبیین] دځپل توان څخه پورته په تلبیه ویلو به ځان نه ستړی کوي؛ ترڅو دتلبیې په وجه ورته کوم زیان ونه رسیږي. تلبیه به نه پریږدي، ځکه تلبیه ویل سنت دي که چیرې تلبیه ویل یې پریښودل داسې شخص به دسنتو مخالف عمل کړی وي.

۱۰-کله چې د ذوالحجې اتم تاریخ شي حجاج به احرام په هغه ځای کې تړي چې په کوم ځای کې اوسیږي او د مسجدالحرام څخه د احرام تړل ضروري نه دي. ځینې حجاج کرام کوښښ کوي چې د مسجد الحرام څخه احرام وتړي .

۱۱-کله چې حاجي احرام وتړي ، نو ټول ناروا او ناوړی کارونه ورباندې حرام شول او حاجي باید په حج کې د شخړو، جنجالونو او کنځلو څخه ځان وساتي. که چیرې دحج په جریان کې چا ته دبل چا له خوا کوم ضرر او تکلیف ورسیږي، باید چې صبر ور باندې وکړي او هغه ته دبالمثل ځواب کوښښ ونه کړي. ځینې حاجي صاحبان لیدل کیږي چې دحج په سفر کې، په مشاعرو کې تل شخړی کوي حتی یو بل ته بد رد وایي چې داسې کارونه دحج اجر له منځه وړي او حاجي ور باندې ګناهګاریږي.الله جل جلاله فرمایي: {فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ} البقرة: ۱۹۷ترجمه: نه دي جائز شهواني کارونه او نه دي جائز دګناه کارونه او نه دی جائز جګړی په حج کې .

امام ابوبکرجصاص ددې آیت په تفسیر کې وایي: ګناهونه او جګړی ولو که نورو حالاتو کې هم حرامی دی؛ خو الله تعالی احرام ته د درناوی په خاطر دلته حرامې ګرځولی دي او بله داچې د احرام په حالت کې دګناه سزا نسبت نورو حالاتو ته درنه دي . [أحکام القرآن للجصاص]

## په طواف کې د تیروتنو پیژندل او له هغو څخه مخنیوی:

۱-کله چې په کعبه شریفه نظر ولګیږي په کارده چې تکبیر وویل شي او دعاء وغوښتل شي.
ځینې حاجي صاحبان په وارخطایي سره مسجد الحرام ته ننوځي او مسجد ته دداخلیدو آداب نه مراعتوي. سنت طریقه داده چې حاجي کله مسجدالحرام ته داخلیږي ښې پښه دی مخکې کړي او (اللهم افتح لي ابواب رحمتک) دعاء دې ووایي او کله چې په کعبه شریفه باندې یې نظر ولګید؛ دری ځله دې (الله اکبر، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ له له الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وهو علی کل شَيْءٍ قَدِيرٌ) ووایي او دعاء دې وغواړي؛ ځکه دا د دعاء دقبلیدو ځای او وخت دی.[البحر]

۲-د حجر الاسود څخه طواف شروع کول واجب دي او ځینې فقهاء وایې چې د حجر الاسود څخه طواف شروع کول شرط دی.[بحرالرائق]

ځینې حجاج حجر الاسود ته د رسیدو څخه مخکې طواف شروع کوي او یا هم حجر الاسود ته د رسیدو څخه مخکې لاسونه وچتوي او په ګردش پیل کوي چې دا تیروتنه او اشتباه ده. همدا شان ځینې حجاج چې کله د حجر الاسود څخه تیر شي بیا استلام کوي ، بلکې په کارده چې حاجې کله حجر الاسود ته مخامخ شي بیا دې لاسونه ورته پورته کړي او تکبیر دې ووایې. همدا شان په آخري ګردش کې ځینې حجاج مخکې له دې چې حجر الاسود ته

ورسیږي طواف قطع کوي، په کار ده چې په اخري شوط کې چې کله حجر الاسود ته و رسیږي د حجر الاسود استلام دې وکړي او بیا دې طواف قطع کړي.

۳- په کارده چې په طواف کې ذکر یا د قرآن کریم تلاوت شي، ځینې خلک په ډلییزه توګه په ډېر لوړ آواز سره ذکر کوي، داسې په کار نه ده؛ ځکه په دې کار سره طواف کوونکو ته ضرر رسیږي. امام ابن نجیم فرمایي:( وَأَمَّا قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فيه فَمُبَاحَةٌ في نَفْسِهِ وَلَا يَرْفَعُ بها صَوْتَهُ). [بحر الرائق]

۴-طواف باید د حطیم څخه بیرون وشي، کله چې څوک حطیم ته داخل شي لازمه ده چې طواف د هغه ځای څخه شروع کړي چې په کوم ځای کې یې قطع کړی وي. ځینې حجاج د طواف پروخت حطیم ته داخلیږي او بیا چې راوزي په خپله مخه ځي چې په دې سره د طواف ځینې حصه ورڅخه پاتې کیږي او د طواف یو څه حصه د حطیم په داخل کې راځي چې په دې کار سره ترک د واجبو راځي. په البحر کې راځي:( وَأَمَّا إدْخَالُ الْحَطِيمِ في طَوَافِهِ فَهُوَ وَاجِبٌ) البحر الرائق

۵- د ازدحام په صورت کې دحجر الاسود ښکلول په کار نه دي. دحجر الاسود استلام سنت عمل دی او که چیرې ازدحام زیات وي او خلکو ته دتکلیف د رسیدو ویره وي؛ باید د لرې څخه ورته په لاسو باندي اشاره وکړي.ځینې خلک کوښښ کوي چې حجرالاسود ښکل کړي ولو که دځان او نورو په ضرر تمام شي. ددې کار څخه باید ډډه وشي. ځکه دحجرالاسود ښکلول سنت دي ، خو دخلکو څخه دضرر دفع کول واجب دي.[التبیین]

په یو روایت کې داسې راځي:(أَنَّ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنِ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا أَبَا حَفصٍ، إِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ، وَإِنَّكَ تُؤذِي الضَّعِيفَ، فَإِذَا وَجَدتَ خُلوَةً فَاستَلِمِ الرُّكْنَ، وَإِلَّا فَهَلِّل وَكَبِّر وَامضِ). مصنف عبد الرزاق.

ترجمه:- عمربن الخطاب رضي الله عنه په حجرالاسود باندې دخلکو سره مزاحمت کولو، پیغمبرعلیه السلام ورته وویل: ای ابوحفصه ! ته قوی سړی یې او ته ضعیفانو ته زیان اړوی، که چیرته دې خالي ځای پیدا کړ حجرالاسود ښکل کړه او که نه؛ نو لآاله الا الله ووایه او الله اکبر ووایه او تیرشه.

٦- د طواف پر وخت د عورت پټول فرض دي او که چیرې په طواف کې دومره اندازه عورت ښکاره شو چې لمونځ ورسره نه کیږي ، دم وربانديې لازمیږي.داسې لیدل شوي دي چې ځینې حجاج لنګ په داسې طریقه تړي چې د طواف پر وخت یې عورت ښکاري. (فَلَوْ طَافَ مَكْشُوفَ الْعَوْرَةِ قَدْرَ ما لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ معه لَزِمَهُ دَمٌ). البحر الرائق

۷- په طواف کې نورو خلکو ته زیان رسول ناوړه کړنه ده.دطواف په وخت کې ځینې حاجیان یواځې دطواف په فکر کې وي او دبوډا ګانو ، ضعیفانو او مریضانو خیال نه ساتي، ټیل کوي او په ویلچرونو سره خلک وهي او حتی زخمي کوي یې خلکو ته ضرر رسول حرام دي.
۸- د احرام او د طواف په حالت کې په مبائل کې مصروفه کیدل او خپل قیمتي وخت ضائع کول نه دي په کار.
په دې وروستیو کې چې دمبائل نړۍ عامه شوی ده او مبائل د مسلمان څخه عبادت، تلاوت ، ذکر او فکر هرڅه اخیستي دي، دنورو وختونو په څیر مبائل دحاجي څخه په احرام او حرم کې وخت ضائع کوي او هغه لحظات چې نه تکراریدونکی دي اکثره اشخاص یې په مبائل کې دانځورونو په اخیستلو او د ویډیوګانو په جوړولو او جوکتلو بربادوي. په مکې حرم کې او دپیغمبرعلیه السلام د زیارت په وخت کې ځینې خلک د انځورونو او ویډیوګانو په اخیستلو مصروف وي، چې دا ډیر ناشایسته کار دی او بې د بې ادبی مظهر دی.په کارده چې حاجي صاحبان ددې ناوړه کار څخه جداً ځانونه وژغوري. په طواف کې دې مسنون اذکار ، دعاګانې ووائي او یادې د قرآن کریم تلاوت وکړي .

**۹**-په طواف کې دښځو سره دتماس نیولو څخه باید ډډه وشي.په طواف کې باید کوښښ وشي چې دنامحرمو زنانه ؤ سره تماس ونه نیول شي؛ ځکه د پردیو زنانه ؤ سره په قصدي توګه لګیدل ګناه ده. ځینې خلک دطواف په وخت کې ددې خبرې هیڅ خیال نه ساتي.

**۱۰**- د طواف څخه وروسته دوه رکعته واجبي لمونځ د مقام ابراهیم څخه علاوه دمسجدالحرام په نورو ځایونو کې ادا کول هم درست دی.د طواف څخه وروسته لمونځ دمقام ابراهیم شاته ادا کیږي، خو که چیرې دمقام ابراهیم شاته خالي ځای نه وي او د خلکو ازدحام ؤ ، حاجي کولای شي چې دوه رکعته لمونځ د مطاف یا مسجدالحرام په کوم بل ځای کې اداء کړي، ځکه د خلکو څخه ضرر دفع کول واجب دي. ځینې حاجي صاحبان ډیر زحمت او تکلیف کاږي چې حتما دوه رکعته لمونځ د مقام ابراهیم شاته وکړي ولو که ځای هم نه وي.

**۱۱**- د احرام تړلو څخه وروسته دوه رکعته لمونځ او د طواف څخه وروسته دوه رکعته لمونځ په مباح وخت کې په کاردی.

ځینې حجاج مکروه وخت هیڅ په نظر کې نه نیسي او په مکروه وخت کې هم د طواف دوه رکعته لمونځ کوي.

**۱۲**-که چیرې د طواف په ګردشونو کې ورته شک پیدا شو ، نو په اقل عدد دې اکتفاء وکړي او طواف دې له سره نه را ګرځوي.ځینې حجاج کرام چې د ګردشونو په عدد کې تیر وځي ، طواف د سره پیل کوي چې په دې سره په حرج کې واقع کیږي.

**۱۳**- د کعبې شریفې دروازه ملتزم نه دی؛ بلکې ملتزم د هغه ځای نوم دی چې د حجر الاسود او د کعبې ددروازې ترمنځ واقع دی. ځینې حجاج دکعبې شریفې په دروزاره باندې د ملتزم ګمان کوي او له همدې امله د دروازې پورې ځان مسح کوي.

اګر چه د کعبې شریفې دروازه خپل فضیلت لري او د دروازې د درشل مچې کول مستحب دي.[مجمع الانهر]

**د صفا او مروه ترمنځ سعیه کولو کې تیروتنې او اشتباهات:**

۱- هرکله چې حاجي د طواف څخه فارغ شو اوغوښتل یي چې د صفا او مروه ترمنځ سعی وکړي ، په کارده چې یو ځل د حجر الاسود استلام وکړي او بیا صفا او مروه غونډۍ ته وخیژي.ځینې حجاج دی متوجه نه وي او د حجر الاسود استلام نه کوي .

همدا راز د طواف او سعی ترمنځ زیاته فاصله راوستل په کار نه دي. ځینې حجاج چې کله طواف وکړي بیا زیات وخت وروسته سعی ته راځي چې دا کار خلاف سنت او مکروه دی. علامه کاساني رح فرمایې: (ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الرُّكْنِ فَاسْتَلَمَهُ وَلِأَنَّ السَّعْيَ مُرَتَّبٌ على الطَّوَافِ لَا يَجُوزُ قَبْلَهُ. وَيُكْرَهُ أَنْ يَفْصِلَ بين الطَّوَافِ وَبَيْنَ السَّعْيِ).[ بدائع الصنائع]

**۲**- د صفا او مروه ترمنځ سعیه کې رمل نشته او په سعیه کې رمل کول خلاف ادب کار دی.ځینې حجاج په سعیه کې هم د طواف په شان رمل کوي. امام سرخسی لیکلي دي: (وإذا سعى بين الصفا والمروة ورمل في سعيه كله من الصفا إلى المروة ومن المروة إلى الصفا فقد أساء ولا شيء عليه). المبسوط للسرخسي

**۳**-کله چې صفا غونډۍ ته وختلو او بیت الله شریف ورته ښکاره شو ، تکبیر دې ووایې او مسنون دعاء او اذکار دي ووایې او بیت الله ته دې په لاسونو باندې اشاره نه کوي ، بلکې لاسونه دې پواځې د دعاء لپاره پورته کړي.

٤- دصفا او مروه ترمنځ سعی باید په کامله توګه ترسره شي. دصفا او مروه غونډيو ترمنځ سعی هغه وخت کامله سعی ده چې حاجي لومړی صفا غونډۍ ته وخيژي او دا يقيني کړي چې صفا غونډۍ ته ختلی دی. همدا راز حاجي بايد دا يقيني کړي چې مروه تپې ته ختلی دی.ځينې حجاج چې کله صفا غونډۍ ته نږدې شي د مروه په لور ګرځي او غونډۍ ته نه خيژي، همدا شان کله چې مروه تپې ته نږدې شي بيا را ګرځي، چې دا کار دسنتو خلاف عمل دی دی. فتاوی عالمګيری کې راځي: (وَالصُّعُودُ على الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سُنَّةٌ حتى يُكْرَهَ أَنْ لَا يَصْعَدَ عَلَيْهِمَا) ترجمه: صفا او مروه ته ختل سنت دي او دا مکروه ده چې ورته ونه خيژي.

٥- په ميلين احضرين کې منډه وهل د سړو لپاره دي ؛ ښځې دې منډه نه وهي.ځينې زنانه ليدل کيږي چې دوی هم د سړو په شان په ميلينو اخضرينو کې منډه وهي.

٦- د صفا او مروه ترمنځ پياده سعيه کول واجب ده او څوک چې پرته له عذر څخه په سپرلی سعيه کوي دم وربانديې لازميږي.

ځينې حجاج پرته له عذره د ويل چر په وسيله سعيه کوي چې په دې کړنې سره دم وربانديې لازميږي.علامه ابن نجيم ليک:(أَنَّ الْمَشْيَ فيه وَاجِبٌ حتى لو سَعَى رَاكِبًا من غَيْرِ عُذْرٍ لَزِمَهُ دَمٌ).[ البحر الرائق]

ترجمه:- په سعيه کې پياده تلل واجب دي . که چيرې پرته له عذره په سپرلی سپور سعيه وکړي دم وربانديې لازميږي.

## په عرفات کې تيروتنې او اشتباهات:

١- عرفات ته د ذو الحجې په اتم تاريخ کې تلل خلاف سنت عمل دی. که څوک بې له دې چې مِنَی ته لاړ شي او مستقيم عرفات ته د ذوالحجې په اتم تاريخ لاړشي دا کار مخالف د سنت دی او حاجي د يو لړ فضائلو څخه محروميږي.

(وَأَمَّا مَا يَفْعَلُهُ النَّاسُ فِي هَذِهِ الْأَزْمَانِ مِنْ دُخُولِهِمْ أَرْضَ عَرَفَاتٍ فِي الْيَوْمِ الثَّامِنِ فَخَطَأٌ مُخَالِفٌ لِلسُّنَّةِ).[ رد المحتار ]

٢- په عرفات کې د بيهوده مجلسونو څخه بايد ځان وساتل شي. په عرفات کې د وقوف په وخت بايد خپل پروردګار ته زاري، ژړا او فرياد وشي او دا وخت غنيمت وګڼل شي.عرفات هغه ورځ ده چې الله تعالی په کې خپلو بندګانو ته دهغوی ګناهونه ښښي. دعرفات ورځ يو طلايي فرصت دی او په دې ورځ چې دبندګانو دعاګانې په کې مستجاب دي بايد په تلاوت، دعاء، ذکر باندې تيره شي او د هر ډول بيهوده مجلسونو، خوبونو څخه ځان وساتل شي.ځينې حاجي صاحبان ليدل کيږي چې په دغو قيمتي شيبو کې په خپلو منځو کې قيصې کوي، ټوکې او مسخری کوي، ځينې په مبائلو کې مصروف وي او ځينې نور بيا په خوراکونو پسې منډې وهي او سبيلونه راټولوي؛ چې دا د ځان سره ستره جفا او لوی ظلم دی.

٣- د عرفات څخه د لمر له پريوتلو وروسته بايد راووزي.حجاج په عرفات کې د ماښام لمر پريوتو پوری پاتې کيږي. متأسفانه ځينې خلک داسې دي چې په بې ځايه بهانو باندې دلمر دپريوتو څخه مخکې دعرفات څخه راوزي؛ چې دا يوه لويه اشتباه ده چي په حاجې باندې دم لازميږي. امام ابن نجيم فرمايي: (لو دَفَعَ قبل الْغُرُوبِ وَجَاوَزَ حُدُودَ عَرَفَةَ لَزِمَهُ دَمٌ) البحر الرائق

ترجمه:-که چيرې څوک د لمر د غروب څخه مخکې د عرفات څخه راووتلو او دعرفات له حدودو تير شو، دم وربانديې لازم شو.

٤- د جبل رحمت په خوا کي اړول غوره دي خو جبل الرحمت ته ښتل خلاف سنت دي.

کله چې د ذوالحجې نهم تاریخ شي حجاج د منی څخه عرفات ته ورځي . که چیرې ددې امکان وي چې د جبل الرحمت په خوا کې واړي غوره ده او که چیرې د ترتیب له مخې د جبل الرحمت په خوا کې اړول ممکن نه وی د عرفات په هرځای کې دریدل درست دي.په خلکو کې دا مشهوره ده او خلک داسې عقیده لري چې جبل الرحمت ته ختل زیات ثواب لري او د عرفات په ورځ کوښښ کوي چې جبل الرحمت ته وخیژي چې دا فکر درست فکر نه دی او دا کار حجاجو ته زیات مشکلات پیدا کوي. امام ابن نجیم په دې اړه لیکي:(وَأَمَّا ما أُشْتُهِرَ عن الْعَوَامّ من الِاعْتِنَاءِ بِالْوُقُوفِ على جَبَلِ الرَّحْمَةِ الذي هو بِوَسَطِ عَرَفَاتٍ وَتَرْجِيحُهُمْ له على غَيْرِهِ فَخَطَأٌ ظَاهِرٌ وَمُخَالِفٌ لِلسُّنَّةِ ولم يذكر أَحَدٌ مِمَّنْ يُعْتَدُّ بِهِ في صُعُودِ هذا الْجَبَلِ فَضِيلَةً تَخْتَصُّ بِهِ).[البحر الرائق]

**په مزدلفه کې تیروتنې او اشتباهات:**

١- په عجله او تیزی سره مزدلفې ته ځان رسول په کار نه دي. ځینې حجاج داسې په عجله سره ځان مزدلفې ته رسوي ، ته به فکر کوی چې دا کوم سنت عمل دی. حال داچې نبي علیه السلام مزدلفې ته د ښکته کیدلو پر خت صحابه وو ته داسې وفرمایل: (أَيُّهَا النَّاسُ، السَّكِينَةَ السَّكِينَةَ).صحیح مسلم .ترجمه: ای خلکو! پر تاسو ارامي لازم ده، پر تاسو ارامي لازم ده.

٢-کله چې حجاج مزدلفې ته ورسیږي، باید د لمانځه لپاره تیاری ونیسي. ځینې حجاج چې مزدلفې ته راشي نو د هرڅه نه لومړی د جمراتو د ویشتلو لپاره د تیږو په راټولو پیل وکړي.

٣- د مزدلفې د محدودې په هرځای کې پاتې کیدل درست دي. کله چې دعرفات څخه حجاج راووتل په لاره کې دې نه اړوي او ځانونه دې دمزدلفې محدودې ته ورسوي.غوره داده چې د( قزح) غر په خوا کې واړوي، خو که چیرې ځای نه وي بیا چې دمزدلفې په هرځای کې یي واړول درست ده. ځینې حاجي صاحبان کوښښ کوي چې د(قزح) غر ته ځان ورسوي او فکر کوي چې بدون ددغه ځای څخه بل ځای کې تم کیدل حج نیمګړی کوي چې دا سم فکر نه دی. فتاوی عالمګیري کې راځي: ( وإذا أَتَوْا الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلُوا حَيْثُ شَاءُوا) کله چې مزدلفې ته راورسیدل هرځای کې چې یې خوښه وي وادې اړوي.

له بل پلوه ځینی نور خلک شته چې هڅوی په ( وادی محسر) کې هم پاتې کیږي او دا ورته کوم باک نه ښکاري چې دا کړنه سمه کړنه نه ده .
امام حصکفي (رح) وايي: (المزدلفة كلها موقف إلا وادي محسر هو واد بين منى ومزدلفة فلو وقف به أو ببطن عرفة لم يجز على المشهور) الدر المختار
ترجمه:- مزدلفه ټوله دقوف ځای دی؛ پرته له ( وادی محسر) څخه ځکه وادي محسر- یو ناو دی دمزدلفې او منی ترمنځ. که څوک په دی ځای کې وقوف وکړي وقوف یې درست نه دی په مشهور روایت سره.

٤- په مزدلفه کې د وقوف وخت د فجر صادق څخه تر لمر ختلو پورې دی.

ځینې حجاج  داسې دي چې بیدون دکوم مشروع عذر نه د مزدلفې څخه وزي او په خپل وخت کې وقوف نه کوي چې په دې سره ورباندې دم لازمیږي.د مختصر القدوری په شرح کې راځي: (ومن ترك الوقوف بالمزدلفة من غير عذر فعليه دم) اللباب في شرح الكتاب. څوک چې په مزدلفه کې پرته له عذره وقوف پریږدي دم ورباندې لازمیږي.

## د جمراتو د ویشتلو پر وخت تیروتنې او اشتباهات:

۱-  پرته له ضرورته د جمراتو په ویشتلو کې بل څوک وکیل ټاکل سم کار نه دی.ځینې حجاج د تنبلۍ او سستۍ له امله نوروکسانو ته وایي چې زما په ځای هم جمرات وول‌ه، باید چې ددې کار څخه مخنیوی وشي.

۲- د جمراتو ویشتل د حج داعمالو څخه یو عمل دی او دا عقیده سمه نه ده چې جمرات حقیقةً شیطان دی. بعضی عوام چې کله جمرات ولي په دې عقیده یې ولي چې دا حقیقةً شیطان دی ،ځکه  دوی وایي: شیطان مي وویشتلو او د جمراتو د ویشتلو پروخت زیات قهرجن وي. او ځینې حجاج د جمراتو د ویشتلو پر وخت شیطان ته کنځل کوي، په لویو تیرو یي ولي، په چپلو یې ولي. چې دا کارونه د شریعت خلاف  کارونه دي.ځکه دا اعمال د الله تعالی د ذکر او یادولو په هدف مشروع شوي دي. بناء په لویو تیرو د جمرات ویشتل یا په بوټانو او چپلو سره د جمراتو ویشتل غیر شرعي کارونه دي.

۳- د لومړیو دوه جمرو د ویشتلو  څخه وروسته دعاء کول سنت ده . که چیرې د ازدحام ویره نه وي او دعاء کولو لپاره فرصت وي باید چې حاجي دعاء وکړي، البته د آخري جمرې د ویشتلو څخه وروسته دریدل او دعاء نشته.

اکثره حجاج لیدل کیږي چې کله جمرات ولي په ډیره عجله یي ولي او دعاء لپاره نه دریږي.دا چې جمرات ویشتل عبادت دی، په کارده چې د لته هم عاجزي اختیار شي او په مسنون طریقه باندې جمرات وویشتل شي.رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله لومړۍ جمره وویشتله مخ په قبله به ودریده او اوږده دعاء به یې وکړه. همدارنګه کله به چې یې دوهمه جمره وویشتله مخ په قبله به ودریده او دعاء به یې وکړه  او کله به یې چې دریمه جمره وویشتله نه به دریده بلکې مخ ته به تللو.

٤- د جمراتو د ویشتلو پر وخت تکبیر ویل سنت دي. ځینې حجاج تکبیر نه وایې چې دا کار خلاف سنت دی.

د هدیې(قرباني) ذبح کول باید په مکه او یا منی کې ترسره شي.

ځینې حجاج داضحیې( قرباني) لپاره دمکې څخه بیرون وزي او دمکې څخه بیرون هدیه ذبح کوي.

امام مرغینانی (رح) وایي:( وأما النسك فيختص بالحرم بالاتفاق، لأن الإراقة لم تعرف قربة إلافي زمان أومكان) الهداية شرح البداية

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**